لیکوال: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ ۲۰۱۸/۰۸/۰۲

# د ټرمپ په ستراتیجی کې لوی بدلون

## امریکایي ډیپلوماټانو د طالبانو له استازو سره مخامخ خبرې اترې تر سره کړي

د طالبانو او امریکایانو تر منځ د پټو خبرو اترو په اړه یو شمیر نړیوالو رسنیو ځیني جزیات خپاره کړي دي. په دې لیکنه کې ورته یوه کتنه کیږي.

د امریکا متحدو ایالاتو د پرله پسي هوایي بریدونو او بمباریو له لارې غوښتل، څو طالبان له افغان حکومت سره خبرو اترو ته مجبوره کړي. وسمهال دوی له دې ناکامي ستراتیجی په شا شوي او یوه نوې ستراتیجي لري.

په افغانستان کې ډیر هوایي بریدونه او د کماندو سرتېرو ځښتې ډیر عملیات، همدا د هندوکوش په غرونوکي د امریکایانو ستراتیجی وه. دغه خبره څو میاشتې مخکې امریکایي قوماندان جنرال جان نیکلسون د المان د شپیګل مجلې سره به یوه مرکه کې کړي ده. وسمهال په څرګند ډول د امریکې حکومت خپل جنګي تکتیک بدل کړي دی او خپل جګپوړي امریکایي ډیپلوماټان یې سختدریځو طالبانو استازو ته ورلیږلي دي. څو د احتمالي اوربند د ټینګیدو او احتمالي سوله ییز بهیر په اړه خبرې اترې وکړي. له دې امله داسي نښې نښاني را څرګندې شوې دي، چې د امریکې ولسمشر ډونالډ ټرمپ په ښکاره ټوګه د طالبانو سره په جګړې کې خپله نوې ستراتیجی پلې کول غواړي او د خبرو اترو له لارې د افغانستان اوږدې جګړې ته د سوله ییز حل لارې چارې لټوي.

نیویارک ټایمز نږدې دوه اوونی مخکې په یوه رپوټ کې لیکلي وه، د ټرمپ اداري خپلو جګپوړو ډیپلوماټانو ته سپارښتنه کړي ده، د طالبانو سره د مخامخ خبرو اترو په لټه کې شئ. څو په افغانستان کې اوږده جګړه ختمه شي. دا د امریکاپه سیاست کې په ښکاره ټوګه ځښت ډیر د پاموړ ستر بدلون دی. تر دې دمه د امریکایانو دریځ دا وه، طالبان دې په مخامخ ډول د افغان حکومت سره خبرې اترې ترسره کړي. تر دې دمه امریکایانو د طالبانو سره له خبرو اترو ډډه کوله. دوی به ویل، د سولې اړوند خبرې اترې باید د افغانانو په مشرۍ تر سره شي. طالبان تر دې دمه د افغان حکومت سره خبرې اترې رد کړې دي او افغان حکومت یو بې واکه ګوډاګی حکومت نوملي.

په قطر کې له طالبانو سره په پټه کې د افغان جګړې او سولې اړوند خبرې اترې

طالبانو له امریکایي پلاوي سره کتلي او خبرې اترې ورسره کړي دي.

نیویارک ټا یمز خبر ورکړ او لیکلي، اټکل یوه اوونی مخکې د قطر په خلیجي هیواد کې د طالبانو او امریکایانو ترمنځ خبرې اترې تر سره شوي دي. په دې خبرو اترو کې د سویلي آسیا لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت مرستیاله الیس ویلز او نورو امریکایي ډیپلوماټانو د طالبانو له استازو سره کتلي او خبرې اترې تر سره کړي دي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت دغه خبرې اترې نه تائیدوي او نه ردوي. خو د طالبانو دوو استازو د دغو تر سره شویو خبرو اترو پخلی کړی دی. د نیویارک ټایمز ورځپاڼي په حوله.

نیویارک ټایمز لیکي، څنګه چې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت دغه خبرې اترې نه ردوي، خو د بهرنیو چارو وزارت په یوه لیک کې یوه اوونی مخکې د مېرمن الیس ویلز سفر د قطر هیواد ته تائیدکړي دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د قطر په پلازمېنه دوحه کې طالبانو یو نیمه رسمي دفتر پرانېستلي دی. په کابل کې د سولې عالي شورا مرستیال عطاوالله سلیم وایي، هغه ته تر دې دمه په دوحه کې د طالبانو او امریکایانو ترمنځ د خبرو اترو په اړه رسمي مالومات نه دي ترلاسه کړي او زیاتوي، د ټولو اړخونو ترمنځ باید په مخامخ ډول خبرې اترې تر سره شي. او ,, موږ په دې اړه د هرګام هر کلي کوو ,, کوم چې د بین الافغاني خبرو اترو په اړه پور ته کیږي .

د افغان سولې په اړه پرېکړه باید په خپله افغانان وکړي.

د کره رپوټو پر بنسټ په قطر کې د امریکې متحدو ایالاتو او طالبانو ترمنځ د افغانستان د سولې په اړه خبرې اترې او لیدني کتنې تر سره شوي دي.

د امریکا متحدو ایالاتو تر اوسه رسماً له طالبانو سره مخامخ خبرې اترې رد کړي دي. د رسنیو رپوټونو په بنسټ وسمهال د طالبانو استازو او د امریکې حکومت چارواکو تر منځ خبرې اترې تر سره شوي دي. دا یوه هڅه ده، څو په افغانستان کې اوږده جګړه پای ته ورسیږي.

دا د طالبانو غورځنګ په وړاندې د امریکا متحدو ایالاتو په سیاست کې په ښکاره ډول یو خورا لوی بدلون دی. تر دې دمه امریکایانو ویل، طالبان باید د افغان حکومت سره مخامخ خبرې اترې وکړي او طالبان باید د هوایي بریدونو لاندې ونیول شي او هممهاله د طالبانو مشران تر فشار لاندې ونیول شي او په ننبه کړل شي، څو دوی په پای کې د افغان دولت سره یوې معاملې ته اړ کړل شي.

د ۲۰۱۷ کال د اګست په میاشت کې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د افغانستان په اړه خپله نوې ستراتیجي اعلان کړه. ټرمپ د خپلې ستراتیجی پوځې برخې په اړه څه و نه ویل، خو دا ترینه جوتیده، امریکایي پوځیان به له افغانستانه ونه وځي.

وسمهال ټرمپ طالبانو ته د سولې وړاندیز کړي دی. له دې سره په افغانستان کې ټولې انجیوګانې خپل ټولنیز موډل له ګواښ سره مخامخ ویني. چا کولې شول په دې اړه داسې اټکل او فکر وکړي، چې یو جمهوري غوښتونکي به د ولسواکۍ جګړو ټول ډګرونه راضي کړي. دا د هیلري کلینټون سره سمون خوري، یا د سولې وعظ او مبلغ اوباما سره سمون خوري. هغه هم یو دم په ټوله نړۍ کې بریدونه تر سره کړل او نور هیوادونه دې ته وهڅول، څو د جګړې ناوړه زیانونو او اغېزو باندې کار وکړي او خپلې اندیښنې پرې څرګنده کړي. د بېلګې په توګه د جرمني هیواد دا چارې تر سره کوي.

امریکایانو تر اوسه له طالبانو سره د مخامخ خبرې اترې رد کړي دي. طالبان هم له ډیرې مودې راهیسې دا غوښتنه لري، چې یواځې د امریکایانو سره په افغانستان کې د سولې په اړه خبرې اترې کوي. طالبان د افغان حکومت سره خبرې اترې ردوي. دا اوسنۍ د سولې اړوندا خبرې اترې مخکې له مخکې د دواړو لورو لخوا چمتو شوې وې او دا کتنې د طالبانو د مشرتابه په تائید تر سره شوې دي. بنسټپال طالبان د دې بحثونو او خبرو اترو څخه د ښو مثبتو پایلو تمه لري. د دوحې غونډه په یوه دوستانه فضا کې تر سره شوي ده او ډیر مثبت پیغامونه له ځانه سره لري. دواړو لورو ژمنه کړې، رواني جګړې ته به د پای ټکی ږدي. دا ډول مقدماتي غونډې تر رسمي خبرو اترو پیلیدو پورې ډیرې ګټورې پریوتي شي.

دا هم د ټرمپ د نوې ستراتیجي یوه برخه ده، چې افغان حکومت باید د لرې پرتو او کم نفوسه سیمو څخه خپل ځواکونه وباسي او همداراز له ګواښونو سره مخامخ اډې او پوستې پریږدي او خپل ټول پام مهمو ستراټیجیکو سیمو او لویو ښارونو امنیت ساتنې ته واړوي. امریکایان پوهیږي، چې د افغان وسله وال پوځ ځای نیمه پوځې ځواکونه نشي ډکولی.

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

همداوس د جوزجان په درزاب ولسوالۍکې د طالبانو او داعش تر منځ جګړه که تر دوو سوو داعشیان حکومت ته او ۱۲۸ داعشیان طالبانو ته تسلیم شوي دي. او لس ګونه نور وژل او ټپیان شوي دي. دا بریالي عملیات د افغان، امریکایي او د ناټو ځواکونو نه دي تر سره کړي، بلکې د طالبانو پریکنده بریالي عملیاتو بریالیتوب ګټل کیږي. که د افغان حکومت مشران، امریکایې پوځیان، ډیپلوماټان او د طالبانو مشرتابه سمې، منطقي او سوله ییزې عملي پریکړې وکړي او په وړو وړو خبرو د سولې سوله ییز بهیر کې خنډونه جوړ نه کړي، دا شوني ده، چې ډیر ژر به افغانان د افغان غمیزې او رواني جګړې پای ته ورسیږي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ